آصف بهاند ۲۰۱۶/۱۲/۰۹

# با اعتبار، خزانه دار

د سرو او سپينو، تورو وريځو ځګړه
او زه يوازې ورته ناست يم
ننداره يې کوم

پای به يې څه شي لکه زما د وطن
هر څه به پريوزي
په ايرو به واورې

زه به په پای کې د ايرو د وطن
يو وزر سوی مارغه
او د ايرو د کووټو
با اعتبار خزانه دار به يمه

۲۰۱۶/۰۹/۱۲ هيدرسليف ډنمارک




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ